



**له نوښتګر کیسه لیکونکي، څېړونکي، ژباړونکي، تکړه ادیب او ژورنالیست ښاغلي (اسدالله بلهار جلالزي)سره د کوبیسم د نړیوالې ادبي ښوونځی په تړاو ځانګړې مرکه**

**مرکوال: انجنیر عبدالقادر مسعود**

***

شاغلی اسدالله بلهار جلالزی هغه نوښتګر کیسه لیکونکی، شاعر، ادیب، ژباړونکی او تکړه څېړونکی دی، چې د خپلو نښیرونو(آثارو)له لارې یې د عیني حوادثو او پېښو په تړاو داسې کیسې او داستانونه کښلې دي، چې د خلکو په ژبه ډېر ساده خوندور او په ډېره ظریفانه بڼه انځور شوې دي. همداسې هغه ژوره مینه، چې دی یې له پښتو ژبې او پښتونولۍ سره لري، له نورو ژبو څخه یې ډېر ګټور نښیرونه(اثار)ژباړلې دي. دی یو تکړه څېړونکی هم دی.

د پښتو ژبې ښه شاعر، لیکوال او وتلی ژورنالیست حبیب الرحمن تاثیر د اسدالله بلهارجلالزي په یوه منظومه ( وړکتون)باندې د یوې لیکنې په ترڅ کې داسې کاږي:

(( ....که پیغلې خپلو وروڼو ته ځان ورښود چې زه دایم، نو جلالزی په خپل خواږه انداز، په بیل اسلوب او ځانګړي ډول په منظومه ژبه په ترنم کې د وخت چارواکیو او خلکو ته هغه ډول پوهه ورکوي، هغوی ته ماشومان ورښیي چې دادي، څنګه ژوند کوي؟ څهورباندې تېرېږي؟ او څوک سته چې غږ یې واوري؟ د جلالزي دغه منظومې کیسې مې له سره تر پایه ولوستې، په دغه کېسه ییزه شعرونو کې نه دا چې د ماشوم تر ذوق، احساس او غوښتنې پورې محدود دي بلکې داسې مسرې هم په کې شتون لري چې زلمیان، ځوانان او حتی د پاخه عمر خلک هم ورڅخه خوند، پند او پوهه اخیستلای شي، په دې خیالي سندرو کې هغه څه هم په پام کې نیول شوي دي چې نړیوالې رسنۍ یې مراعتوي، د خبریالي له اصولو یې هم سر غړونه نه ده کړې. نه یې مبالغه کړېځ او نه یې په کې له مصحلت څخه کار اخیستی، بلکې په وړکتون کې یو ماشوم ورته حال ورکوي، کټ مټ هغه یې منظومه کړې دي. د ښاغلی جلالزي دغه منظومې کیسې په پښتو ادب کې زما په خیال چې هیڅا هم نه وي ویلې. نو له دې امله

هم بیخې د ستایلو وړ کار دی. بلهارجلالزي داسې کار ته مخه کړې ده چې د ماخذ په توگه به په دغه برخه کې تره وخته یواځې د (وړکتون) نوم لیکل کیږي.
له دې پرته به دا هم ووایم چې: د اسدالله بلهار جلالزي د وړکتون ځینې خیالي او ځینې حقیقي کیسې چې په منظومه بڼه زموږ او ستاسو مخته پرتې دي دولتي چارواکیو، د وخت حاکمانو، نوابانو، خانانو، ملکانو، سرمایه دارانو او هغه خلکو ته چې د ماشوم پرحق ځان اچوي دا پوهه ورکوي چې زموږ د افغانستان، په ځانگړې توگه د غزني او د غزني ولایت د وروسته پاته ولسوالیو د ماشومانو حالت ستونځمن او راتلونکی یې تیاره معلومیږي.))
په درنښت حبیب الرحمن تاثیر
***

ښاغلی جلالزی صاحب د خپل هېواد او هېوادوالو سره ژوره مینه لري. دی یو ټولنیز شخصیت دی او  د خپلو یارانو او دوستانو سره ډېرې ښې، له مینې او اخلاص څخه ډکې اړیکې لري.
ښاغلی حفیظ همیم هغه تکړه شاعر او لیکوال دی، چې په خپله یو لیکنه کې د ښاغلي جلالزي صاحب په تړاو داسې وایي:
((.... جلالزی د هغو گوتمشمېر کسانو له ډلې دی چې ډېر لوراند او ربښتینی سړی دی. ژر اشنا کېږي او د ملگرتیا په پالنه کې ډېر تکړه دی. پر(۲۰۰۴)ز کال کې چې موږ زمزمه اونیزه خپره کړه او پر(۲۰۰۵)ز کال کې مو بیا لونگ مجله خپره کړه، نو تر ډېره پکې جلالزي منډه کوله. لونگ مجله ټوله پښتو وه او کله چې یې لومړۍ گڼه غزني ته ورسېده، د هغه وخت یوه چارواکي دی احضار کړی و، چې دا مجله مو ولې ټوله پښتو ده، حتی گواښ یې هم ورته کړی و. خو ده گواښ یوازې له ځان سره وساتو او له دې خاطره چې موږ و نه ډارېږو دا کیسه

يې تر ډېره وخته موږ ته نه کوله. ما چې هغه وخت د ليسې زده کوونکی وم، نو زما برخه مالي پيټي به هم تل ده پر اوږو اخيست. زما د ښوونځي وختونو کې يې اکثره وخت له خپل مياشتني معاش څخه ماته نيم په نيمه پيسې راکړې دي او ما به دده په معاش د چا په خبره مزې کولې. يو وخت مو بيا په بي بي سي کې يو ځای کار سره کاوه. له (۲۰۰۸)ز کال وروسته چې زه غزني ته نه شوم تللای نو که به غزني کې کوم کار و، ټول غږ به مو تر جلالزي صاحب پورې و. د ده ټول امکانات به د ملګرو په خدمت کې و. په ټولنيزو روابطو به ډېر لږ خلک د ده غوندې تکړه وي. زرګونه مايله لري تر اوسه پورې هم زما له پلار سره ټليفوني رابطه لري، کله مې پلار راته وايي چې جلالزي صاحب زنګ وهلی و او کله دی راته ووايي چې نن مې ستا پلار ته زنګ وهلی و پوښتنه مې وکړه. خو دې ډېرو ټولنيزو اړيکو هم د هغه د مطالعې او کار پر وړاندې خنډ نه دی جوړ کړی. ليکنې کوي، شعر ليکي، ژباړه کوي او کتابونه چاپوي. زه چې ورسره خبرې کوم نو اکثره بحث مو پر دې وي چې څه دي ليکلي دي او څه دي لوستلي دي. هغه ډېر کار کوي او با کيفيته کار کوي. د ليکنې ژبه يې خوږه او روانه وي او ژباړه يې معمولا داسې وي چې د اصلي متن ګمان پرې کېږي. د ماشومانو لپاره د شعرونو او کيسو ژبه يې په ټوله مانا داسې ده چې څنګه د ماشومانو لپاره اړينه وي. په بله مانا، ماشومان په اسانه ترې اخيستنه کولای شي...))

ما له ښاغلي اسدالله جلالزي سره د کوبيسم د نړېوال ادبي مکتب په اړه بشپړه مرکه جوړه کړې ده، تاسو درنو مينه والو ته يې وړاندې کوم.

ګران اسدالله جلالزی صاحب زما نيکې هيلې ومنئ. اجازه راکړئ خپلې پوښتنې ستاسو حضور ته وړاندې کړم.

ښاغلی انجنیر صاحب عبدالقادر مسعود زه هم تاسو او د ادب ټولو مینه والو ته خپل سلامونه وړاندې کوم، ستاسو په چوپړ او خدمت کې یم.

***

**مسعود:** کوبیسم د شلمې پېړۍ په پیل کې د یو مدرن، مخکښ او مهم هنريِ غورځنګ په توګه پېژندل شوی دی. تاسو دا ښونځی ځنګه راپېژنئ او ارزوئ، مهرباني وکړئ د دې مکتب د تاریخ، آر او بنسټ په اړه لنډ مالومات راکړئ، چیرته، کله او د چا لخوا جوړ شوی دی او لومړني بنسټ ایښودونکي یې څوک دي؟

**اسدالله بلهار جلالزی:** د کوبیزم د هنري غورځنګ بنسټ د شلمې پیړۍ په پیل یعنی (۱۹۰۹)زیږدیز کال کې په پاریس کې کیښودل شو. دغه ښوونځي هغه مهال چې لا هم د انځورګرۍ په نړۍ باندې د امیرسیونیزم د ښوونځي اصول او واکونه چلیدل، خو وړاندې تر دې چې ادبیاتو ته لاره ومومي په انځورګرۍ کې را ځرګند شو.

دد غه ښوونځي پلویان لکه د نورو ادبي ښوونځیو په څېر د تونداندو په لوري ورمات شول. دوی د نویو او زړو اصولو د پلویانو تر منځ یو تلپاتې ټکر رامنځته کړ. مخکنیو ښوونځیو د بهرنۍ نړۍ پیروي کوله او د لرغونو قوانینو د ټکي په ټکي شننه، څیړنه، طرحي، اصول او رول یې ریشخند باله، آن چې سپکاوی یې هم ورته کاوه.

د «اکسپرسیونیزم» ښوونځي غوښتل چې د هنرمند ځانګړي احساسات، که هیښونکي، ګډوډ او استثنایي هم وي، بیان کړي. د کوبیزم ښوونځي چې یو انتزاعي او د ګوښه توب هنر دی، هڅه یې دا وه څو خپل لید په شیانو او په موجوداتو کې د هندسي شکلونو په جوړښت کې را وټوکوي. د دغه مکتب بنسټ

اینښودونکي په لومړي ځل (۱۸۸۱-۱۹۷۳) کې پیکاسو او براک په (۱۹٦۳-۱۸۸۲) او درن په (۱۸۸۰-۱۹۵۴) او ځو نور کسان وو چې د دوی پلویان بلل کېدل.

ځانګړتیاوې او آرونه:

د دغه هنري غورځنګ په ځانګړتیاوو کې په دوه اړخیزې سطحې باندې د درې اړخیزې فضا ټوټه ټوټه یا تجزیه کول او د هندسي شکلونو لکه مکعبو، دایرو، مثلثونو، کږو وږو کرښو، پلنو او نریو( مخروط) ګردیو او ستنو د شکلونو په څیر کارونه یې یادولای شو. همدا ډول یې د رنګونو محدودولو ته هم اهمیت ورکاوه. دوی په لومړیو کې، خړ، خاورې رنګه، قهوه یي او شنه رنګونو په خپلو انځورګریو کې کارول او د واقعیت په ځای یې د ا نځور د جوړښت منطق ته په درنه سترګه کتل. کوبیزم نه یوازې په انځورګري کې نوې لارې رامنځته کړې بلکې په وروستیو کې یې معماري، مجسمې جوړونې، موسیقي او ادبیاتو ته هم لاره ومونده.

**مسعود:** د هر ادبي مکتب ډېرې نښې د پخوانۍ دورې په ادبي ښېرونو(اثارو) کې موندل کېدای شي او د هر ادبي او هنري مکتب رامنځته کېدنه د خپلې دورې د ځانګړو ټولنیزو، کلتوري، سیاسي او تاریخي شرایطو او د فلسفي افکارو تر اغیز لاندې وي. ستاسو په اند، هغه عوامل او انګیزې څه دي چې د کوبیسم مکتب د رامنځته کیدو لامل شوي دي؟

**اسد بلهار جلالزی:** زه فکر کوم د هر هنري او ادبي ښوونځی پیژندنه له خپل تاریخي، فکري او ټولنیز چاپېریال پرته ناشونې ده. د کوبیزم ښوونځی هم له همدې قاعدې څخه نه شو بیلولای.کوم لاملونه او انګیزې چې د کوبیزم د ښوونځي د رامنځته کېدو سبب شویدی له هغوو څخه یو یې صنعتي انقلاب هم

دی. یعني د (۱۹) پیړۍ له پایته رسیدو سره سم په اروپا کې د صنعتي انقلاب د بریالیتوب له امله ژور بدلونونه رامنځ شول، ښارونه او تخنیکي وسایل پراخ شول. همدلته وو چې د انسان لیدلوری هم د پنځ او هنر پر وړاندې بدل شو.
دا بدلونونه د هنرپالو د هڅونې او نوښت سبب شول څکه یې نو واقعیت ته په دودیز ډول ونه کتل. بلکې د نوي، عصري ستراتیژۍ په لټون پسي رااوتل.
فلسفي او ساینسي فکرونه هم د دې لامل شول چې د دوی پام حقیقت ته د نږدې والي، د ذهن او درک حدودو او د زمان پیچلتیا ته ور واوړي. په دې اړوند د الماني فیلسوف «ایمانوئل کانت» او فرانسوي فلسفي «هنري برگسن» د اندونو پر اغیز هم سترگې نه شي پټیدلای.
په همدې وخت کې د «آینشټاین» د نسبیت تیوري هم د زمان او فضا دودیز مفهومونه تر پوښتنې لاندې راوستل. همدې افکارو د کوبیسم لپاره فلسفي زمینه برابره کړه. له بلې خوا د افریقایي او غیر لویدیځو هنرونو اغېز هم د دغه ښوونځي د پلویانو په نیښرونو کې جوت شول.
«پیکاسو» د افریقایي هنر له کمالونو چې د تیږو، لرگیو، وړیو، پاڼو او... څخه د پڅیو، لوښو، کالیو په ډولونو کې د بیلابیلو رنگونو په لرلو سره څرگند وو، الهام واخیست، چې دا هنرونه ټول له هندسي بڼو یا شکلونو څخه ډک وو. چې په ښکاره یې د لویدیځ له پنځپالې هنر سره توپیر درلود.
دغه هنر د "سادهپالنې" او گوښه توب د ډولونو ملاتړ کاوه، کوم چې بیا د کوبیزم د جوړښت بنسټیزه برخه وگرځېد.
د دودیزو هنري اصولو پر وړاندې غبرگون

کلاسیک او رنسانس هنر د یوې زاویې لید او واقعیت بنسټ درلود. «پیکاسو او براک» کوښښ کاوه چې دا اصول مات او له ننگونو سره یې مخ کړي، د زمان، فضا او حرکت نوی تعبیر وړاندې کړي. دوی غوښتل چې بیلابیلې زاویې په یوه تصویر کې داسې وښیي، چې ذهن یې درک کړي خو سترگې یې په لیدو ونه توانیږي...
هنري انقلابونه او نوښتونه

---

تر کوبیزم نه وړاندې، امپریسیونیزم، پواست-امپریسیونیزم او فووېزم د هنر پر ساحه او ورشو ډیر واک درلود. په دې موده کې هنرمندانو له رنگونو، جوړښتونو او احساساتو سره تجربې پیل کړې او کوبیزم دا تجربې لا پیاوړې او د یوه منظم محور، هندسي شکلونو او فکري هنر یې وړاندی کړ. په ټوله کې، کوبیزم د یو ژور بدلون نښه وه.
دوی د "څه ښکاریږی؟" پر ځای "څنگه درک کیږي؟" خپله موخه وټاکله.
**مسعود:** تاسو د کوبیسم د مکتب آرونه، اړینې ځانگړنې او غوره ځانگړتیاوې او د نوموړي مکتب، سبک، تگلوري او ارزښتونه څنگه ارزوئ؟
**اسدبلهار جلالزی:** که څه هم د کوبیزم د ښوونځي د ارونو په اړه مو څه ناڅه خبرې وکړې کله چې خبره د ارزونې شوه نو دومره ویلای شم چې دا ښوونځی نه یوازې یو هنري ښوونځی وه، بلکې یو فکري انقلاب، یو نوی لیدلوری او نوی احساس وُ. چې د واقعیت درکولو په پار یې تازه دریځ درلود.
لکه مخکې چې وویل شول، د دغه ښوونځي په ځانگړنو کې شیان او څیزونه د مکعبونو، مثلثونو، دایرو، کږو وږو کرښو او ستنو په بڼه انځوریږي. چې په کې د رنگونو ډیروالي او ساده توب ته پام کیږي. پیکاسو او براک به زیاتره وختونه له

څو محدودونو رنګونو( خړ- قهوه يي او شنه) رنګونه کارول. د دوئ په انځورونو کې يو شی په بیلابیلو زاویو کې ماتيږي او بیا سره یوځای کیږي او په نوي جوړښت کې را ټوکیږي. په دې توګه تصویر د وخت په اوږدو کې ځان بدلوي نه په یوه شیبه کې. ارزښت يې په دې کې دی چې نوښتګر فکر، خلاقیت او ازادي ته لاره موندلي، هنر د فکر وسیله وي.

**مسعود:** ويل شوې دي: نامتو او مخکښ اندیال او متفکرين لکه، «هنري برګسون» نوموړی فرانسوي فیلسوف، «ارنست ماخ»په (۱۹)او(۲۰)پیړیو کې د اتریش فیلسوف او «آنري پوانکاره» فزيک پوه، فرانسوی رياضی پوه، نظري فزيک پوه، انجنير او  فیلسوف، دا ټول هغه فیلسوفان ول، چې د دوی فلسفي اندونه او ليدتوګي د کوبیسم د تګلوري او سبک په جوړولو کې مهم رول لوبولی دی. تاسو په دې تړاو څه لید لرئ؟

**اسدبلهار جلالزی:** همدا درې فیلسوفان–«هنري برګسون، ارنست ماخ او آنري پوانکاره»–د شلمې پېړۍ د فکري بدلون بنسټګران او مهمې څېرې وې. د دوی فکر، نه يوازې ساینس او فلسفه اغېزمن کړل، بلکې د کوبیزم په ګډون يې ډېرو هنري خوځښتونو ته لاره هواره کړه.

هنري برګسون (Henri Bergson) د وخت، شعور او درک په اړه ژوره نظریه وړاندې کړه.

برګسون باور درلود چې انسان، شیان او موجودات د مستقیم شهود (intuition) له لارې درک کیدای شي، نه یوازې د منطق له مخې همدا فلسفه د کوبیستي انځورونو له رټل شويو« ګوښه توب» او ټوټه کیدو سره همغږې ده.

ارنست ماخ (Ernst Mach) د احساساتو پر فزیکي بنسټونو تمرکز کاوه او ويل به يې چې زموږ پوهه یوازې د حواسو پر تجربو ولاړه ده.

همدغه نظر د کوبیزم لپاره یو ډول حسي تجزیوي لید رامنځته کړ: یو شی لکه ځنګه چې ذهن یې د وخت، ځای او حرکت له لارې تجربه کوي، نه لکه ځنګه چې سترګه‌یې ګوري.
آنري پوانکاره (Henri Poincaré)د ریاضي او فزیک د فلسفې پلار ګڼل کېږي. د هغه تیورۍ چې علمي مفاهیم نسبتي دي، نه مطلق، هنرمندانو ته دا انګېزه ورکړه چې "یوه بڼه" یا "یوه زاویه" یوازینی حقیقت نه دی.
پوانکاره د ریاضي پالنې منطق او تخیل ترمنځ پُل جوړ کړ، کوم چې د کوبیستي هنر د هندسي جوړښت او درک لپاره یې نظري بنسټ رامنځته کړ.
البته باید یادونه وکړم چې ځینې نور مکتبونه هم ول چې د کوبیسم په بنسټ ولاړ ؤو. لکه دا:
۱. فیوچریزم (Futurism)
دا ایټالیوي خوځښت د چټکتیا، ماشین، عصري ښاري ژوند، او ټکنالوژۍ له لارې و توانیده چې بدلونونو ته لاره هواره کړي، دوی هم د شکلونو د ماتولو او ټوټه ټوټه کیدو تخنیکونه وکارول.
اکسپریشنیزم کوبیست (Cubo-Expressionism): د کوبیستي جوړښتونو او اکسپریشنیزم د احساساتو یو ګډ جوړښت او ترکیب ؤُ.
هنرمندانو هڅه کوله چې هندسي بڼې د قوي احساساتي تاثیر لپاره وکاروي.
کانستراکتیویزم (Constructivism): دا خوځښت په روسیه کې رامنځته شو چې د هنر په ټولنیز رول باندې یې باور درلود. د هنر او تکنالوژۍ ګډول یې هدف و. دوی له کوبیزم څخه د هندسي ساده والي او جوړښتي منطق الهام واخیست.
اورفیزم (Orphism):
د کوبیزم فرعي مکتب، چې د رابرټ دېلوني او سونیا دېلوني له خوا رامنځته شو.

له کوبیسم څخه یې هندسي بڼه واخیسته، خو پر رنګ، رڼا او حرکت یې تمرکز ډېر وُ. هدف یې د موسیقۍ غوندې حس ورکړې نقاشي وه.
پوټریټ کوبیزم (Purism):
د لږوالي، پاکوالي او ماشیني سادګۍ خوځښت و، چې (لو کوربوزیه) او ( امدیه) او(سژفانت) یې مخکښان وو. دوی له کوبیزمه متأثر و، خو غوښتل یې هغه نور هم ساده او پاک کړي.
**مسعود:** په ادبیاتو او شعر کې د کوبیسم بنسټیزې ځانګړتیاوې، عقاید او اندونه څنګه ارزوئ؟ او دا راته وویاست چې په دې برخه کې د کوبیسم د مخکښو څېرو لیکوال څوک ول؟ که یې د نامتو نښیرونو (اثارو)د معرفي او ارزښت په تړاو یې مالومات راکړئ.
**اسد بلهار جلالزی:** دکوبیزم فعالیتونه په نړۍ کې د انځورګرۍ له لارې را پیل شول خو ډېر ژر یې ادبیاتو، په ځانګړي ډول شعر، ته هم لاره وموندله.
مخکښ لیکوال او شاعران یې د فرانسي "ګیوم آپولینېر"، "پی ایریوردي"، امریکایي لیکوال، "سټاین" او "ایزراپاونډ" او د انګلیستان "ټي ایس ایلیټ "ول. چې مشهور اثار هم د ګیوم کالیګرامونه، د پی ایریوردي نازکې تنې، د سټاین ، بیضوي یا ګردۍ کړکۍ او د "ایزراپاونډ" د (میټرو په تم ځای) کې یادولای شو. کوبیزم په ادبیاتو کې د ژبې، درک او واقعیت ترمنځ اړیکه له یوې نوې زاویي وڅېړله، د شعر او نثر له دودویزو چوکاټونو څخه بهر ووت او د ذهن، خیال او انځورونو یو نظم یې رامنځته کړ.
**مسعود:** د انځورګرۍ او نقاشۍ د هنر په برخه کې، د کوبیسم د ښونځی ځانګړتیاوې، د دغې هنر د سبک مهمې ځانګړنې څه ډول ارزوي؟ او دا راته ووایاست، په دې هنری سبک کې د انځورونو لپاره د الهام سرچینه څه وه؟

**اسدالله بلهار جلالزی:** کوبیزم د انځورگرۍ په تاریخ کې یو له خورا پیاوړو او بنسټیزو ښوونځیو څخه وُ، چې انځور یې له طبیعي انځورگري نه جلا کړ او هنر یې د مفکوري، جوړښت او تجزیي له نوي نړۍ سره وصل کړ.د الهام سرچینې یې افریقایي هنر، سیلاني علم (Ethnography) ساینسي پوهه او د پال سېزان (Paul Cézanne) کارونه وُ.

سیلاني علم (Ethnography)غربي لیکوالو او انځورانو ته دا موقع په لاس ورکړه چې د نورو له کلتورونو سره اشنا شي. همدا کلتوري تعامل د تخیل نوې سرچینه شوه. ساینسي مفکورې او د «آینسټاین» د نسبیت تیوري، د هنرمندانو تخیل ته نوی لوری ور وښود. او نور..

**مسعود:** د انځورگرۍ او نقاشی په هنر کې د کوبیسم د ښونځی تر ټولو مهم او پېژانده استازي څوک ول؟ هیله ده که تاسو د دې هنرمندانو، د تگلورو او سبک، د هنري او نامتو نښیرونو (اثارو) د معرفي او ارزښت په تړاو یو څه رڼا واچوئ.

**اسدالله بلهار جلالزی:** کوبیسم د هنر په نړۍ کې یو له هغو مکتبونو څخه وُ، چې نه یوازې د انځورگرۍ بڼه یې بدله کړه، بلکې د هنرمندانو د فکر په طریقه یې هم ژور اغېز وکړ. «پابلو پیکاسو (Pablo Picasso)»، چې د کوبیسم له بنسټگرو څخه وُ. سبک یې هم له ابتدایي کوبیسم نه تر ترکیبي کوبیسم پورې، د افریقایي هنرونو، هندسي جوړښتونو او تجزیې کارونو په محور را چورلیده.

نامتو آثار: د اوبینون پیغلې، گورنیکا( دجنگ پرضدچیغې) چې د اسپانیا د ښار بمباري انځوروي، ژړانده ښځه، نجلۍ د هینداري مخې ته، زوړ گیتاري او...

خوان گریس (Juan Gris)د ترکیبي کوبیسم بل مخکښ دی. په خپل سبک یې روښانه رنگونه کارول چې منظم جوړښت لري. په کار کې یې د ورځینو توکو کاریدا ډېره تر سترگو کیږي.

اثار يې د پيکاسو انځور، ساکن ژوند او ميزپوښ، ويلن او شطرنج، د روم بوتل، سگريټي سړی او نور... دي

فرنان ليژر (Fernand Léger)د فرانسې هيواد انځورگر، پژی او فلم جوړونکی هم د يادونې وړ دی. ده کوبيزم ته له ميخانيکي پلوه وده ورکړه. اثار يې په لاندې ډول دي:

په ښار کې پاڼې، د انسانانو او ماشينونو اړيکه(فلم) ترانسپورتي ديوال.

فرانسوي انځورگر ژرژبراک هم چې د دغه ښوونځي له بنسټگرو څخه وُ.

خورا مهم نيښرونه يې پنځولي د بيلگې په ډول يې د څو يادونه کوم. ويلن او کوزه، نارنج او ورځپاڼه، کورونه په استاک کې، سړی او گيتار او نهم لمبر کارځای، يې مشهور اثار دي.

**مسعود:** د کوبيسم د ډولونو لکه، ځيرنيز، تحليلي او مصنوعي کوبيسم، ځانگړنې او غوره ځانگړتياوې څنگه ارزوئ؟

**اسدالله بلهار جلالزی:** ځيړنيز او مصنوعي کوبيسم د دې مکتب دوه مهم ډولونه دي، چې د هنر د ليد، جوړښت او مفکورې له پلوه ژور توپيرونه لري. ځيړنيز کوبيسم شيان له بيلابيلو اړخونو تجزيه کوي او بيا يې په يو چوکاټ کې وړاندې کوي. دوئ د رنگ، ښکلا او جمالياتو لوري ته ډير پام نه کاوه. له همدې کبله يې په انخورونو کې تور، خړ، قهوه يې او شنه رنگونه ليدل کيدل چې همدا يې موخه هم وه. انځورونه يې له ډيرو کرښو، کوچينو برخو او ټوټه شويو بڼو جوړول چې له پيچلتيا برخمن وو. ځينې وخت به سکالو په کې دومره ټوټه ټوټه (تجزيه) شوي وه چې پيژندنه يې گرانه کيده.

د مصنوعي کوبيزم (Synthetic Cubism)په اړه ويلای شم چې ځانگړنې يې ترکيبي جوړښتونه او د روښانه رنگونو ژيړ، شين، نارنجي او نورو کاريدنه وه، له

تخنیکي وسایلو ورځپاڼو، کاغذونو او مادي شیانو یې ګټه اخیسته او په انځورونو کې یې د لیکنو، ویویکو راوړل لیدل کیدل. له دې ورهاخوا وخت ته هم په کې پام کیده.

په ټوله کی ددغه ښوونځي دواړه، ځیړنیز او مصنوعي ارزښتونه د اهمیت وړ دي ځیړنیز کوبیزم ذهن ته وده ورکوي. چې په کې د انځورونو تفسیر، یووالی، تړاو او فکري ځیړنه ترسره کیدای شی. په مصنوعي کوبیسم کې هنر نوې ژبه پیدا کوي. ورځني توکي لکه لیک او هندسه د هنر برخه ګرځي.

**مسعود:** ویل شوې دي: د دې هنري خوځښت خورا نامتو او اصلي هنرمندان دا دي.«پابلو پیکاسو، اسپانیایي انځورګر، مجسمه جوړونکی شاعر او لیکوال»، «ژرژ براک، فرانسوي انځورګر او مجسمه جوړونکی»، «خوان ګریس، اسپانوي انځورګر، ډیزاینر او نقاش». که د نوموړو د هنري شخصیتونو، اغیزمنو ښیرونو (اثارو) د معرفي او ارزښت په تړاو په لنډه توګه مالومات راکړئ.

**اسدالله بلهار جلالزی:** دغه درې واړه هنرمندان د کوبیسم د بنسټګرو او مشهورو ځیرې وئ. راځی د هر یوه هنري شخصیت، سبک، او اغېزناکو آثارو ته لنډه کتنه وکړو:

پابلو پیکاسو (Pablo Picasso):

پابلو پیکاسو د اسپانیا اوسیدونکی وُ. هغه د (۱۸۸۱)ز کال د اکتوبر په (۲۵)مه د «مالاګا» په ښار کې زیږیدلی وُ، چې د اندلس سیمې یوه برخه ده. که څه هم پیکاسو د خپل ژوند ډېره برخه په فرانسه کې تیره کړه، خو ملیت یې اسپانیایی و او د اسپانیا د کلتور او تاریخ څخه یې هنر اغیزمن و. دی انځورګر، پژی جوړونکی، لیکوال او شاعر و.

د ده هنرې سبک واقعیت ښکاره کول و، دا کار يې نه يوازې په کوبيسم کې کاوه بلکې په سورریالیسم  او سیاسي هنر کې يې هم دوام ورکړ.
پیکاسو د خپل هنري فعالیت په بهیر کې خورا مهم او ډیر اثار وپنځول. غواړم د ده په مشهور نیښر "ګرنیکا" باندې لږ تم شم.
"ګرنیکا" د پابلو پیکاسو یو له تر ټولو مشهور او اغیزمنو انځورونو څخه دی، چې په (۱۹۳۷)ز کال کې يې کښلی. دا اثر يې د اسپانیا د "ګرنیکا" ښار د بمبارۍ په اعتراض کې پنځولی، کوم چې د هټلر د نازي ځواکونو له خوا د اسپانیا د کورنۍ جګړې پر مهال ترسره شوی وه.
دا انځور لیدونکي ته بيلابیل اړخونه بیانوي، په انځور کې تور، سپین او خړ رنګونه کارول شوي و. چې د غم، ویر او درد احساسات څرګندوي، د سمبولونو په توګه دانسانانو، غوا، آس او نورو موجوداتو انځورونه په کې لیدل کيږي چې د جګړې ویره او وحشت يې په ډاګه کاوه. همدا ډول، د خلکو چیغې، د بدن ټوټې، وران او ویجاړ کورونه هم د احساساتو او د جګړې دردناک واقعیت بیاناوه.
ژرژ براک (Georges Braque):
د فرانسې هیواد اوسیدونکی، ماهر انځورګر او پژۍ جوړونکی و. نوموړی د خپل بيل سبک خاوند و. ځیرنیز محوره، موسیقي، ترنم او هندسې جوړښتونه يې کارول. دی د پیکاسو ملګری و او له هغه سره يې په ګډه د کوبیسم بنسټ کیښود. ګڼ شمیر اثار يې ولیکل، "ښځه له منډولین سره" "Woman with a Mandolin"،  منډولین یو موسیقي اله ده چې د ګیتار ته ورته ده، خو واړه او مخصوص تارونه لري. په دغه اثر کې ځیرې، شکلونه او جوړښتونه يوازې په هندسي بڼو کې له ورايه ښکاري.
خوان ګریس (Juan Gris):

د اسپانیا د هیواد له وتلو انځورگرانو او ډیزاینرانو څخه و. انځورگري، نوښت، طرحي او ډیزان يې ورځني فعالیتونه و. د ترکیبي سبک لرونکی و او په مصنوعي کوبیسم کې نوښتگر، گډو جوړښتونو ته يې منطقي نظم ور وبانښه. ده هم د خپل کار په موده کې اغیزمن اثار وکښل. د "پیکاسو تصویر" اثر يې په (۱۹۱۲)ز کال وپنځاوه چې خورا مشهور شو. گریس ته د مصنوعي کوبیسم د استاد په سترگه کتل کیدل.

**مسعود:** ستاسو په اند کومو هنري غورځنگونو د کوبیسم د ښونځی د هنري سبکونو په جوړولو کې مهم او اغیزمن نقش او رول لوبولی دی؟

**اسدالله بلهار جلالزی:** د معلوماتو له مخې د کوبیسم د ښونځي جوړېدل یوازې د پیکاسو او براک نوښت او ابتکار نه و، بلکې د بېلابېلو هنري خوځښتونو، تجربو او فکري چاپېریالونو د تعامل پایله وه. د بیلگې په توگه:

امپریسیونیزم (Impressionism):

دا مکتب د (۱۹)مې پېړۍ په پای کې رامنځته شو. دغه ښوونځي د رنگونو، رڼا، او فضا د احساساتي اغېز انځورولو ته پاملرنه وکړه.

که څه هم امپریسیونیزم او کوبیسم په خپلو کې سره توپیر لري، خو دا خوځښت د هنر د آزادي غوښتنې پیل و؛ له همدې لارې هنرمندانو د دودیزو رودو او لارو څخه د واټن موندلو له کبله ترې لیرې شول چې بیا ورته د حس او فضا د تجزیي زمینه مساعده شوه.

پواست امپریسیونیزم (Post-Impressionism):

د امپریسیونیزم نه وروسته، بیا د پواست امپریسیونیزم مکتب د جوړښت، هندسې، او تجزیي په اهمیت باندې په ټینگار سره کار پیل کړ. په دې برخه کې د فرانسې هیواد د عصري هنر پلار «پال سیزان» Paul Cézanne چې د هندسي

شکلونو، رنګونو، او جوړښتونو له لارې يې طبيعت او شيان انځورول کوبيسم ته د بنسټيز الهام وړ وګرځېده، هغه باور درلود چې طبيعت د هندسي شکلونو (مکعب، دايرې، مربع، مثلث او...) له لارې درک کېدای شي.

فاوېزم (Fauvism):

د فاويزم خوځښت د روښانه، تندو او احساساتي رنګونو له لارې ځان را څرګند کړ. که څه هم کوبيسم د دغه خوځښت له امله پر رنګونو ډېر بنديزونه ولګول خو د هندسي جوړښت فکر بيا د دواړو ترمنځ يو پل جوړاه.

(Braque) براک خپله هنري لاره له فاويزم نه پيل کړه، وروسته کوبيست شو.

ساينسي او فلسفي مفکورې:

که څه هم دا مکتبونه نه دي، خو د نسبيت تيوري، غير اقليدسي هندسه او فلسفه (برګسون، پوانکاره) د کوبيسم مفکوري بنسټ جوړونه وکړه.

همدې مفکورې کوبيستانو ته جرئت ورکړ چې فضا، زمان، او ليد د هندسي تجزيې له لارې بيان کړي.

**مسعود:** دا راته وواياست چې کوبيسم يو عصري يا پخوانی هنر دی؟

**اسدالله بلهار جلالزی:**

کوبيسم (Cubism) يو عصري هنري مکتب ګڼل کېږي. دا مکتب د شلمې پيړۍ په پيل کې رامنځته شو، او د دوديزو واقعيتونو بيلا بيلو ښکارندويي بڼو په اپوټه يې نوې لاره غوره کړه. که څه هم دغه ښوونځي د (۱۹۰۷)ز او (۱۹۱۴)ز ترمنځ ډېر وده وکړه، خو اغېز يې لا تر اوسه هم په مدرنو هنري غورځنګونو کې احساسېږي.

**مسعود:** تاسو د کوبيسم د مکتب د زوال او د له منځه تللو، اصلي لاملونه، انګيزې، دک او دليل څنګه ارزوئ؟

**اسدالله بلهار جلالزی:**

کله چې کوبیزم په خپل وخت کې ډیر ژر د لوړتیا او اوج پړاونو ته ورسیده، خو بیا ورو، ورو له منځه لاړ چې د رنګیدو اصلي لاملونه او انګیزې دا وي.

لومړی خو د کوبیزم سبک نوښتونه عام شول او خپل اغیز یې وبایله، بل دا چې د کوبیزم هنر هندسي بڼه د عامو لیدونکو له پاره په اسانۍ سره د پوهیدو وړ نه وه. له بله اړخه نوي خوځښتونه هم را وټوکیدل او د هنر پالو پام د دادایزم، سوریالیزم او اکسپرېشنیزم په لور ور واوښت. سیاسي او ټولنیزو بدلونونه لکه لومړۍ نړیواله جګړه، په اروپاکې سیاسي بې‌ثباتي، او د ټولنیزو ارزښتونو بدلون هم ورباندې ناوړه اغیز وکړ.

د عکاسي پرمختګ هم د دودیزو انځورونو اړتیا کمه کړه او فلسفي میلان او د هغه مهال فلسفي افکار لکه د برګسون د وخت او شعور نظریې د کوبیزم په مفکوره باندې تاثیر وکړ. د وخت فلسفي افکار، لکه د برګسون د وخت او شعور نظریې هم د کوبیزم پر مفکوره باندې اغیز وکړ، پورتني عوامل سره یوځای شول او د کوبیزم لمنه یې هم ورټوله کړه.

**په درنښت او ادبي مینه: انجنیرعبدالقادر مسعود**